د زیري
کالګنه
۱۴۰۴ل.

پښتو کیسه یيز ادبیات

(د علمي - څېړنیزو مقالو ټولګه)

سریزه، ترتیب او تدوین:
څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

پښتو کیسه یيز ادبیات (د علمي - څېړنیزو مقالو ټولګه)

سریزه، ترتیب او تدوین: څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

Pashto Fiction

(A Collection of Research Articles)

Prepared by:
Associate Professor
Dr. Muhammad Ishaq Khawreen

ISBN 978-9936-672-08-6
9 789936 672086

2026

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ
د زېږي جریدې مدیریت

پښتو کیسه ییز ادبیات

(د علمي - څېړنیزو مقالو ټولګه)

سریزه، ترتیب او تدوین
څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

د ټولګې د مقالو کتنپلاوی

څېړنپوه دوکتور سیدنظیم سیدي

څېړنپوه محمد اصف احمدزی

څېړنوال دوکتور محمد داود عربزی

څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

څېړنوال رحیم الله حریفال

څېړنوال احسان الحق کبیر

څېړندوی مطیع الله ساحل

د ټولګې ځانګړنې

د ټولګې نـــوم: پښتو کیسه ییز ادبیات

لیکـــــــوال: بېلابېل

اوډون او تدوین: څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

ایـــــــډیټر: دوکتور خاورین

اهتـــــــمام: څېړندوی پښتون پښتون

چاپ کـــــال: ۱۴۰۴ل/ ۱۳۴۷هـ. ق/ ۲۰۲٦م کال

د چـاپ ځـای: ستاره همت مطبعه، کابل - افغانستان

خپرندوی: د افغانستان علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

آدرس: د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، نوی ښار، کابل

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکې شمیره : ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست برېښلیک: info@asa.gov.af

ISBN : ٦- ۰۸ -٦٧٢- ٩٩٣٦- ٩٧٨

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

لیکلړ

سرلیک **مخګڼه**

د داستان له کړکۍ د کیسې کیسه ..... أ
کیسه ییز ادبیات؛ ټولنیز او کلتوري ارزښتونه ..... د
پښتو کیسه ییز ادبیات .....و
په پښتو ادب کې د کیسه ګۍ څېړنه ۱
نوې کیسه لیکنه او طاهر اپریدی ۲۲
شنه رڼا ۳۹
احسان الله ارینزی؛ د افغانستان د اوږدې غمیزې راوي ٤۷
سبک او د طاهر اپریدي د لنډو کیسو سبکي ځانګړنې ٦٥
د غنې ځاله ناول تشریحي کره کتنه ۸٥
ساړه بادونه او د هغوی رواني اړخونه ۱۰۱
طاهر اپریدی؛ له قبایلي کړلېچونو تر ښاري شور او ولولو داستاني یون ۱۱٤
مېرمن زیتون بانو د خپلو اثارو په هنداره کې ۱٥۱
د کیسه ییز ادب د ځینو اصطلاحاتو شننه ۱٦٤
په کیسه کې د لیدلوري او راوي د زاویې شننه ۱۷٤
د ماشوم په ژبنۍ وده کې د کیسه ییزو ادبیاتو ونډه ۱۸٦
په کیسه ییزو پنځونو کې د نوم ټاکنې پړاو ۱۹٥
د ناول ژبپوهنیزه څېړنه ۲۰۳
د طاهر اپریدي د څو لنډو کیسو ټولنیزه ـ اروایي شننه ۲۲٥
د ولسي کیسې (نکل) او لنډې کیسې پرتلیزه څېړنه ۲٤٥
فانتازي (خیال، تخیل او که خیالي) ۲٥۹
د لنډې کیسې د کرکټر څرنګوالی ۲۷۳
جوجو؛ د ساینس فکشن په هنداره کې ۲۸٥
ځانګو او د هغې مثالي څېرې ۲۹٦
د پښتو ډرامې په پرمختیا کې د عبدالروف قتیل خوړیانې ونډه ۳۰۹
پښتو ډرامه یوه پېړۍ (۱۹۱٦ - ۲۰۱٦م) ۳۲۳

د داستان له کړکۍ د کیسې کیسه

ډېر خلک فکر کوي چې کیسه ییز یا داستاني ادبیات یوازې تفریحي هنر دی او موخه یې انسان د څه وخت لپاره بوخت ساتل دي، چې له بده مرغه زموږ ځینې لیکوال هم له دې ناسم پوهاوي سره همغږي دي او فکر کوي چې د ادب په وېړتیا او مغتنمتیا کې کوم ځانګړی رول نه لري، خو که د څو شېبو لپاره د همدې خبرو پر وړاندې خاموشي اختیار کړو او بیا وپوښتو چې زموږ د اذهانو په ناسم بدلون کې، د پردي کلتور په خپلولو یا فرهنګي یرغل په راتګ کې، د فکر په مغشوشتیا کې، د احساساتو په ناسم مدیریت کې، د تجربو په ځنډن او خنډن کېدلو کې، له مطالعې نه په زړه توروالي او دې ته ورته نورو مسایلو کې کومې خبرې رغنده رول لري؟

ښایي ځواب خاموشي او یا هم د خلاصون لټه وي، خو منطقي او سم ځواب به د مرغۍ پې وي. پرته له شکه کیسه ییز ادبیات په دغو ټولو مواردو کې رغنده رول لري. که موږ غواړو او که نه زموږ د ټولنې د فرهنګي یرغل په مخنیوي کې زموږ داستاني ادبیات په لومړۍ کرښه کې دي او کولای شي چې زموږ د ځوان کهول د سمې لارښوونې په برخه کې یې لاسنوی وکړي.

ادبپوهان وایي کیسه ییز ادبیات د ژبې هغه لطیف، هنري او زړه راښکونکی هنر دی چې د ټولنې د ذهن په روښانتیا او بدلون کې ستر رول لري. کیسه ییز ادبیات ذهن او فکر ته پراختیا ورکوي، د حوصلې او مطالعې تومنه په کې پیدا کوي، له عبثیاتو او وزګارۍ مو ژغوري، د ټولنې ناخوالې او ستونزې را په ګوته کوي او پرې د بریالیتوب پر هنر او کمال مو پوهوي.

کیسه ییز ادبیات لوستونکي ته دا وړتیا وربخښي چې څنګه پر موضوعاتو فکر وکړي او د پنځ مراندې پر کومو لارو خپلې کاندي. ستونزو او ناخوالو ته له کوم دیده وګوري، پخوانۍ متجربې څېرې پرې څنګه بریالۍ شوي او د ناکامۍ د مخنیوي لارې چارې یې کومې دي؟

که چېرې د ټولنې ټولنیز وضعیت له څو اړخونو زیانمن شوی وي، فضایي ککړتیا له حده زیاته شوې وي، ولسي پوهاوی او ټولنیز درکونه په نشت حساب وي او منښته یې هم تقدسي برید ته رسېدلې وي، نو په داسې حالاتو کې څنګه د خلاصون لار پیدا او یوه سوکاله ټولنه رامنځته کړو. دا ټول د کیسه ییزو ادبیاتو د تجربو او لاسته راوړنو په وسیله شونې دي، خو په دې شرط چې کیسه لیکوال په رښتینې معنا د کیسې آرونه او د کیسه ییز هنر مهارتونه په بې پرې توګه پلې کاندي او په ټولنه کې یې له ټولنیزو نزاکتونو سره خوا په خوا روان کړي.

که خبره لږه نوره هم سپینه کړم، زموږ پر ګران هېواد په دوه زرم میلادي کال کې یو څپه راغله چې د ګڼو مسایلو ترڅنګ فرهنګي مسایل هم په کې په کافي اندازې پرېمانه شول، خو دا چې زموږ له ټولنې سره یې اړخ لګاوه او که نه دا یوه نه پوښتونکي او نه په پام کې نیونکې مسأله وه. که مبالغه ونه کړم په اوونۍ کې به یوه ډرامه، ننداره، سریال او یا داستاني کیسه جوړېده او انځوریزه بڼه به یې خپلوله، خو د ژباړې له لارې په لسګونو او سلګونو هندي، امریکایي، ایراني، ترکي او دې ته ورته ډرامې او سریالونه زموږ ادب او ټولنې ته را ننوتل او په ګڼو خصوصي رسنیو کې به خپرېدل چې پرته له شکه، نه یې ځمکه زموږ وه، نه یې سوژه زموږ وه، نه یې ټولنه زموږ وه او نه یې هم ټولنیز او فرهنګي مسایل زموږ وو، خو په بې خرته توګه راتلل او خپرېدل چې تر ډېره ځینې یې شعوري او سیاسي ول، خو ځینې په ناشعوري او د تفریحي ادب په نامه راتلل، چې له بده مرغه زیان یې ولس ورکاوه او دا چې د ټولنې اخلاق یې څومره مغشوش کړل او چېرته یې ورسول، نو پایلې یې تر ننه پورې په خپلو سترګو وینو، چې لا یې هم له مهارولو سره لاس او ګرېوان یو، نو که چېرې دغو مسایلو او نزاکتونو ته ځیرنه وکړو، را جوتېږي چې کیسه ییز ادبیات یوازې تفریحي او د وخت تېرولو ادبیات نه دي، بلکې د ټولنې د اصلاح، سمون او رغون هغه بنسټیزې ستنې دي چې پر ځوان کهول یې نېغ پر نېغه اغېز ښندلی او د ګټمن کېدلو یا زیانمن کېدلو د لومړۍ کرښې سوبمن او زیانمن په کې همدوی دي.

د افغانستان د علومو اکاډمي د ګڼو علمي، ټولنیزو او فرهنګي مسؤولیتونو ترڅنګ یو ستر څېړنیز او ادبي مسؤولیت دا هم دی چې د خپلې ټولنې پر وړاندې د هر ډول فرهنګي او کلتوري ښکېلاک مخه ونیسي او پردی ناسم او نامنلی فرهنګ په لار کې خنثا او پر ځای یې اسلامي او د خپلو ادبي ارزښتونو په رڼا کې فرهنګ وپنځوي او په ټولنه کې یې پلي کړي، چې پر همدې پار د فکري او ادبي ښکېلاک د مخنیوي او د یو سوچه افغاني ادبي فرهنګ د خپلونې او ورته ځیر کېدنې په موخه، دا ځل د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز تر چتر لاندې د زېږي جرېدې په نوښت او ابتکار د پښتو داستاني ادبیاتو ټولګه چې د زېږي جرېدې د (۱۴۰۴) لمریز کال د کالګنې په توګه خپرېږي، چمتو کړې او د ادب مینه والو ته یې وړاندې کوي.

په دغه ټولګه کې د پښتو ناول، پښتو لنډې کیسې، پښتو ګیسه کۍ او پښتو ډرامې په اړه په زړه پورې مقالې لیکل شوي چې هم یې تیوري د نویو غوښتنو او اړتیاوو په رڼا کې څېړي او هم یې د بېلګو، کره کتنې او تاریخچې په اړه سپړنې لري او دا په دې چې تر اوسه پورې د ځینو

سمفونیو د تاریخچو په اړه ناسم پوهاوی موجود وو، یا هم ځینې سمفونۍ چې له آره ژانر نه و، خو د ناسم پوهاوي له امله د صنف په توګه مشهور شوی و، څېړل شوي چې زه ډاډه یم په ګانده کې به د نورو پراخو بحثونو لپاره هم صفحه پرانیزي او تر څنګ به یې د دغې مغالطې د بیا تکرار مخنیوی هم پرې وشي. د دې ترڅنګ سره له دې چې د ډرامې د تیورۍ په برخه کې ډېرې نوې او په زړه پورې څېړنې شوي، خو په ورته وخت کې د ډرامو یو اوږد او نایاب لیست هم په کې خپور شوی چې په مستنده توګه یوه یوه ډرامه لوستل شوې او تحلیل شوې ده او بیا پرې حکم شوی چې ایا ډرامه ده او که نه او پخوا د کومو لاسوندونو پر اساس ډرامه ګڼل کېده او اوس د کوم دلیل پر اساس د ډرامې له لیسته ووته.

همدغه شان د کیسه ګۍ په اړه هم نوې څېړنې شته چې ولې تر اوسه پورې ځانګړې سمفوني یا ژانر نه ګڼل کېده او اوس ورته پر کوم اساس د یوې بلې سمفونۍ یا ژانر په توګه کتل شوي او د کومو لاسوندونو پر اساس یې یو جلا ځېل ګڼو، نو په ټوله کې دا ټولګه دا او دې ته ورته نوې څېړنې او په زړه پورې سپړنې لري چې زما په نظر بېلګه به یې په ندرت سره پیدا شي، نو ځکه اړینه وه او ده او پر همدې پار د زېرې جریدې مسؤول مدیر ښاغلي څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین او مهتمم یې څېړندوی سید پښتون پښتون د یوې علمي ډلې په ملتیا دغه درانه کار ته اوږه ورکړه چې له ښه مرغه دا دی نن یې تاسې د لوستلو شاهدان یاست.

زه د ژبو او ادبیاتو مرکز د مسؤول په توګه له ډاکټر خاورین او ملګرو څخه یې د زړه له تله مننه کوم او هیله من یم چې د زېرې جریدې اداره دا ډول کارونه لومړني او دویم و نه ګڼي، بلکې په راتلونکي کې هم ورته دوام ورکړي او همداسې په ترتیب سره د منثورو او منظومو ژانرونو په برخه کې ټولې شته ستونزې، مغالطې، ابهامات او ناسمې سمې او نوې څېړنې وکاندي.

مینه او پېرزوینه

څېړنپوه دوکتور سیدنظیم سیدي

د ژبو او ادبیاتو مرکز رئیس

۱۴۰۴/۱۱/۱۷

کیسه ییز ادبیات؛ ټولنیز او کلتوري ارزښتونه

کیسه ییز ادبیات د کیسې ویلو هنر، په مهارت او جذابیت داستانونه او روایتونه لیکل او روایتول دي چې دا د نړۍ د ادبیاتو مهمه برخه ده.

د کیسه ییزو یا داستاني ادبیاتو اهمیت په دې کې دی چې دا:

- کلتوري بډاینه ده: داستاني ادبیات د کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو ټولګه ده چې له خلکو سره د هغوی د شاوخوا چاپېریال او نړۍ د درک او پوهاوي په پراختیا کې مرسته کوي.

- ادبي او ژبنیو مهارتونو ته وده ورکول دي: کیسه ییز ادبیات د بهرنیو ژبو د زده کړې او د مورنۍ ژبې د مهارتونو د ښه کولو لامل ګرځي.

- الهام او هڅونه ده: داستاني ادبیات کولای شي خلکو ته خپلو موخو او خوبونو ته د رسېدو لپاره الهام بخښونکي او انګېزه ورکوونکي واوسي.

- تفریح او سرګرمي ده: کیسه ییز ادبیات د ژوند له ستومانیو او ذهنې فشارونو څخه د لوستونکي یا اورېدونکي د لرې کولو او د ځینو خوندورو شېبو رامنځته کولو ښه وسیله ده.

په ټوله کې ویلی شو چې د داستاني ادبیاتو بنسټیزه موخه د جمالیاتو، کلتور او انساني ارزښتونو په رڼا کې د ټولنې او خلکو د ژوند تجربې، احساسات، عواطف، فکرونه او باورونه منعکسول دي. دا ډول ادبیات د خلکو ترمنځ تفاهم، الفت، مینې او خواخوږۍ ته وده ورکوي او له بې عدالتیو، مظالمو او بې بندوباریو پرده پورته کوي، نو له همدې امله یې ارزښت لوړ او پرې پوهېدل اړین دي.

له نېکه مرغه د ادبیاتو په دې حوزه کې له تېرې څه باندې یوې پېړۍ راهیسې پښتنو لیکوالو په پراخه کچه د کیسه ییزو ادبیاتو په هر ژانر کې که هغه لنډه کیسه ده، ډرامه ده، ناول دی، کیسه ګۍ ده او که نور داستاني ژانرونه، قلمونه چلولي او وېړه زېرمه یې موږ ته په میراث پرېښې چې زموږ د ټولنې او د خلکو د ژوند تجربې، باورونه، ښادۍ، ناخوالې او ټولنیز کړه وړه په کې منعکس شوي دي.

په تېرو څو لسیزو کې د داستاني ادبیاتو هره برخه په اختصاصي ډول زموږ د پوهانو او څېړونکو د څېړنې محور ګرځېدلی او په دې برخه کې ګټور تحقیقات هم شوي دي، خو دا چې د بشري علومو خاصه او غوښتنه دا ده چې وخت په وخت په کې نوې خبرې او

نظریات رامنځته کېږي، نـو اړتیـا ده چـې د پښـتو ژبـې د کیسـه ییـزو ادبیـاتو برخـه لا نـوره وڅېړل او وشنل شي چې په دې برخه کې له نویو تیوریـو څخـه اسـتفاده وشي او څېړونکـي یې د داستانی ادبیاتو جزئیاتو او باریکیو ته پام وکړي.

همدغې اړتیا او اړینتیا ته په کتلو د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیـاتو مرکـز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ د زېري تاریخي جریدې مدیریت مناسبه وبلله چې د خپلـو خپرنیزو فعالیتونو ترڅنګ سرکال (۱۴۰۴ل) د داسـتاني ادبیـاتو پـه اړه د علمـي- څېړنیـزو مقالو ټولګه چاپ کړي چې دا یو نوښت او نېک ګام دی. هماغه وو چې دغه موضوع یې لـه پوهانو او څېړونکو سره شریکه کړه چې خوشبختانه په دې اړه یې مغتنمې او ګټورې علمي- څېړنیزې مقالې ولیکلې چې دا دی د یوې ټولګې په بڼه وړاندې کېږي.

زه د دې ټولګې د مقالو د ارزونې علمي کمیسیون غړو، د زېري جریدې مسؤول مدیر او مهتمم ته د زړه له کومې د سوکالۍ او سرلوړۍ لپاره لاسونه لپه کـوم او یادونـه کـوم چـې د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوټ په راتلـونکي کـې هـوډ لـري چـې د پوهـانو او څېړونکـو پـه مرسته د پښتو ژبې او ادبیاتو ناسپړلي موضوعات وڅېړي او هم پر شویو ادبي موضوعاتو لـه نویو لیدلوریو او زاویو لا نور دقیق او تخصصي تحقیقات وکړي.

څېړنپوه محمد آصف احمدزی
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوټ آمر
د ۱۴۰۴ل کال د سلواغې ۱٦مه

پښتو کیسه ییز ادبیات

کیسه او انسان سره تړلي او یو ډول لرغوني دي. د الله تعالی له لوري د انسان تخلیق خپله یوه کیسه ده. کله چې انساني تاریخ لولو په زرګونو کیسې مو مخې ته راځي چې موږ ته د بېلابېلو دورونو د انسانانو په اړه بېلابېل معلومات په لاس راکوي. په انساني ژوند کې د کیسې د ارزښت اندازه له دې څخه په ښه ډول کولای شو چې په اسماني کتابونو کې هم کیسو ته ځای ورکړل شوی دی او د یوسف علیه السلام کیسې ته خو بېخي "احسن القصص" ویل شوي دي.

د نننۍ زمانې په بوخت ژوند کې هم انسان د کیسې اورېدل خوښوي. همدا کیسې دي چې موږ ته د تاریخ له دریڅو د ځمکې پر مخ د تېرو شوو انساني ټولنو په اړه معلومات راکوي. د هغوی له ژوند ژواک مو خبروي، د هغوی کارنامې مو مخې ته ږدي او د هغوی په ژوند کې پېښې شوې پېښې راته بیانوي.

کیسه ییز ادبیات یوازې د ساعت تېرۍ وسیله نه ده، بلکې د ادبیاتو د دې ډول په مرسته د پرونیو کارنامې تر موږ او د اوسنیو، راتلونکو ته لېږدېدلي او لېږدېدای شي. د دې ادبیاتو په مرسته موږ د خپلو ماشومانو او ځوانانو روزنه د خپلو عقیدوي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې په غوره ډول کولای شو، ځکه کیسه ییز ادبیات له انساني طبیعت سره نږدې اړیکې لري. انسان یو ډول په طبیعي توګه د کیسې په اورېدلو او خوښولو مجبور دی. د ادبیاتو دا ډول د انساني ټولنیز ژوند تصویرونه دي چې موږ په کې د تېرو شوو نسلونو ژوند، ژواک لیدلی او خپل ژوند د راتلونکو نسلونو لپاره خوندي کولی شو.

څه ډول چې په انساني ژوند کې کیسه خپل ارزښت لري، همدا ډول د ادبیاتو په نړۍ کې کیسه ییز ادبیات له خورا ارزښت څخه برخمن دي. رښتیا دا دي چې له کیسه ییزو ادبیاتو پرته ادبیات نیمګړي دي، ځکه کیسه ییز ادبیات د یوې ژبې د ادبیاتو غني برخه جوړوي. په دې کې به مبالغه نه وي چې په روان پېر کې هم د ادبیاتو دا ډول ډېر لوستل کېږي، حتی د کیسه ییزو ادبیاتو ځینې اثار په لسګونو ژبو ژباړل کیږي او میلونونو انسانانو ته رسېږي چې دا په ټوله کې د کیسه ییزو ادبیاتو ارزښت په ډاګه کوي. بې ځایه به نه وي

که د کیسه ییزو ادبیاتو اړوند د نړۍ د ځینو مشهورو لیکوالو اندونه د بېلګو په توګه راوړو.

ارستو: "کیسه ییز ادب له تاریخ څخه لوړ او د ژوند رښتینی انځور دی".

هنري جېمز: "کیسه ییز ادب انسان ته د ژوند رواني او اخلاقي اړخونه په ګوته کوي".

ډي. ایچ. لارنس: "کیسه ییز ادب هغه څه بیانوي چې ساینس او فلسفه یې بیانولی نه شي".

له پورتنیو کرښو په ښه ډول څرګندېږي چې کیسه ییز ادبیات نه یوازې په ادبیاتو بلکې په انساني ټولنیز ژوند کې خورا ارزښت لري، چې هم د یوې ژبې د ادبیاتو په بډاینه او هم د ځوانانو په اخلاقي روزنه کې لوی لاس لري. کیسه ییز ادب موږ نه یوازې له خپل پرون سره تړي، بلکې د راتلونکي لپاره مو هم تیاروي او په راتلونکي کې انساني ژوند ته له را پېښو ګواښونو مو هم خبروي. باید ووایو چې په ننې پېړۍ کې د ځینو انساني ټکنالوژیکي پرمختګونو په شاه هم د کیسه ییزو ادبیاتو وړاندوینې لیدل کېږي چې نن یې موږ په خپل ژوند کې په عمل کې وینو.

کیسه ییزو ادبیاتو د تاریخ په اوږدو کې ګڼ پړاوونه وهلي دي، په تېر او اوس مهال کې بېلابېل ژانرونه د دې ډول ادبیاتو برخه یا کیسه ییز ژانرونه ګڼل شوي دي. په اوسني پېړۍ کې ډرامه، ناول، ناولګوټی، لنډه کیسه او کیسه ګۍ د کیسه ییزو ادبیاتو ژانرونه ګڼل کېږي.

په پښتو ادبیاتو کې د کیسه ییزو ادبیاتو اوسني منل شوي زیاتره ژانرونه لږ او ډېر یوه پېړۍ مخینه لري چې ډرامه، ناول او لنډه کیسه ترې په خاصه توګه د یادولو وړي دي. همدا ډول ناولګوټی (ناولېټ) او کیسه ګۍ هم څو لسیزې پخوا پښتو ادب ته لار پیدا کړې ده. هر څو که په پښتو ژبه کې کیسه ییزو ادبیاتو تر ډېره وده کړې ده او په دې برخه کې په سلګونو اثار پنځول شوي دي خو د دغو اثارو د کره کتنې، تحلیل او ارزوونې په برخه کې لا هم ډېر کار ته اړتیا لیدل کېږي.

زېری چې د هېواد له پخوانیو خپرونو څخه ده، په ١٣١٦ل کال کې تأسیس شوې او تر دې دمه یې یوه لسیزه کم یوه پېړۍ (١٣١٦- ١٤٠٤ل) د پښتو ژبې، ادب او فرهنګ په برخه کې د لیکوالو له قلم وتې ملغلرې خپلې ټولنې ته وړاندې کړې دي. په (١٣٥٧- ١٣٦٠- ١٣٦٣ل) کلونو کې یې "د زېري کالنۍ" په نوم د مقالو څانګړې ټولګې هم چاپ کړې دي، چې د پښتو ادب په بډاینه کې یې له ارزښت سترګې پټولای نه شو.

د زېري کالنۍ روایتي لړۍ ته د دوام ورکولو په پار یو وار بیا د روان (١٤٠٤ل) کال

لپاره د زېري د کالګېې په توګه "پښتو کیسه ییز ادبیات" موضوع غوره شوه چې دا دی ستاسې په لاسونو کې ده او ان شاءالله په راتلونکي کې به هم دغه روایت ته د دوام ورکولو لپاره خپله ټوله هڅه کوو.

په دې ټولګه کې د کیسه ییزو ادبیاتو د څلور ګونو ژانرونو اړوند د علومو اکاډمۍ او د پوهنتونونو پر استادانو سربېره د پښتو ادبیاتو د ګڼو څېړونکو علمي - څېړنیزو مقالو ته ځای ورکړل شوی دی چې د کیسه ییزو ژانرونو بېلابېل اړخونه په کې را سپړل شوي دي. هیله ده، د پښتو کیسه ییزو ادبیاتو اړوند په تر سره کېدونکو څېړنو کې دا ټولګه د یوه مهم اثر ځای ونیسي.

په پای کې د دې ټولګې ټولو مقاله لیکوالو، کتونکې ډلې او د پښتو انسټیټیوټ آمریت ته کورودانی وایم، چې د دوی د ادبي او علمي مرستې له برکته دا ټولګه چاپ کېږي. همدا ډول د ژبو او ادبیاتو مرکز د رئیس ښاغلي څېړنپوه دوکتور سیدنظیم سیدي د ښو یادونه اړینه ګڼم چې نه یوازې د زېري له چارو سره ځانګړې علاقه لري، بلکې د دې ټولګې پر وخت چاپولو کې یې هم سترې او مرسته شامله ده. کور یې ودان. نور مو په لوی څښتن سپارم.

د پرمختللې پښتو په هیله

څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

د زېري جریدې مسؤول مدیر

۱۴۰۴/۱۱/۱۱